مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی ۲۰۲۰ / ۰۸ / ۲۵

# پټ سلام

یوه ورځ خو مخ ښکاره کانده له بام پټ
زه دېوال خوا کې ولاړ یم هر ماښام پټ
که د خولې سلام مو نه سره رسیږي
نو د باد په لاس خو ولیږه سلام پټ
په مینو د دېدن رخه ښه نه ده
دا سپین مخ به دي یوه ورځ کاندي ایام پټ
لاس وېښي مې کړې که بندې زه پرې خوښ یم
راته کېده چیرته تورو زلفو دام پټ
که دا نور خلک دشنامه څخه بد وړي
پر ما ښه لګي په مینه کې دشنام پټ
د هجران تنده به هله مې شي ما ته
که دي وښمه د سرو شونډو یو جام پټ
د وصال زیری به زه دربانديې وکړم
که د سپیني خولګی راکاندې انعام پټ
هغه شپه به پنځلسی، لیلته القدر وي
چې په غوږ کې راته وکاندې کلام پټ

**شعروزمه خیالونه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ